د لوي څښتن په نامه

# فلسفه

## داسې لږ له فلسفې

د پښتو نړیوالې ورځې ته

د ۲۰۲۰ ز ک جون میاشت

Ketabton.com

راټولونکی: ډاکتر [illegible] شینواری

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوي ښېښتن په ستر نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library


## کتابپېژندنه

د کتاب نوم: فلسفه

راټولونکی: ډاکتر ماخان میرې شینواری

خپرندوي. کتابتون. کوم Ketabton.com

د خپرولو کال جولای . ۲۰۲۰ ز ک



د راټولونکي برېښناپته:

smakhn1946@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک


سریزه الف
فلسفه ۱
د یوه فیلوسوف ادعا ۳
فلسفه څه شی دی؟ ۴
تېزې ۵
انتیتېزې ۷
هیوپوتېزې ۹
د کانت هیوپوټطزې سره د حکم بڼه ۱۳
په افانستان د روغې راتګ عملي بېلګه ۱۵
هغه ویونه چې روښانونه غواړي ۱۷
د سوچه هوښیارتیا فکري توان انتینومي ۱۹
............................ دویمه برخه ۲۵
فورمال لوګیک ۳۲
لوګیک یا لوجیک ۳۴
د شمېرپوهنې سم اند ۳۶
د راټولوونکي لیکنې او ژباړې ۴۲
د راټولوونکې ژوند ته لنډه کتنه ۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الف

سریزه:

د دې لیکلنې سره توکلي مخامخ شوم. زړه مې نه وو، چې له فلسفې سره ځان بوخت کړم، خو سره له د ې مې هم دا یو څو فلسفي لیکنې له الماني څخه له تاسو سره ګډول زړه وغوښته. په دې خو پوهیږو، چې فلسفه یو په زړه پورې د لوست خوندیونې لري او ډېرې خبرې پرې کېدی شي.

دا څه چې له تاسو سره ګډوم، هیله ده، چې داسې ستاسو د خوښې لامل به شي. فلسفه کې تل اندونه سره بدل وي، خو دا زه چې تاسو سره ګډوم، دا ما د الماني لیکوالانو لیکلې له تاسو ګډول دي، چې ماته یې هغه لیکنډول خوند راکړ او هیله لرم، چې ما به دا داسې لږ څه د بنسټ لیکنې په څېر نه، خو داسې ورنږدې خوند به ترې واخلی.

زمالیکنې دباندني ویونه کم لري او له دې امله هم هیله ده، چې تاسو د ورسره نابلد په څېر ستړي نه کړي.

ګرانو لوستنکو: زه هڅېدلی یم، چې زما لیکنې ډېرې ټولپوهوړ ولیکم، خو داسې که نه وه ما ته به خښنه وکړی.

په دې لیکنه کې – لکه په نورو کې – زه هڅېدلی یم، چې فلسفه هم په پښتو، دا پهدې مانا، چې ساده او پوهوړ ولیکم.

دا یوه له څېړونکو رانیولې پوهنیز د پرېخبرو څه دي، چې زما له اند او عقېدې سره سر او کار نه لري. دلته ما دا لیکنې راټولې کړي او ډېرې خوندورې راته برېښي، چې زړه مې تاسو ته د دې وړاندې کېدل په مینه وغوښتل

ما غوښتل چې دا فلسفي ویونه سره رایوځای او تاسو ته یې د پښتو ترې پ،هېدنې سره برګ اندې کړم، خو د لاسه مې پ،ره نه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Philosophie فلسفه

نوموتي یا مشهور فیلوسوفان:

په څېره کې کېنې پلاتون د خپل زده-کوونکي ارېستوتالس سره

په خواشینۍ باید ووایم، چې هغه څېرې ورانې

شوې وې او له دې امله ما نه شوې پورته کولی.

داسې لږ څه له فلسفې:

په فلسفه ( زړه یوناني کلیمه φιλοσοφία ده یا وی دی، چې د *philosophía* سره لاتین شوې اوټکې په ټکي یا وی ییزه مانا یې ،، مینه وهوښیارتیا ته،، یا ،، د هوښیارتیا سره مینه،، ده) کې هڅه کیږي، چې نړۍ او انسان په ټولو یوګونوالو، تر بنسټه وپیژني، روښانه کړي او پرې وپوهیږي.

د نورو پوهندسیپلینونو څخه فلسفه په دې کې ځان بیلوي یا د نوروپوهنو سره له دې لارې توپیرلري، چې په یوه ځانګړې ریښه کې او یا ټاکلې متودپوهنه کې رابنده نه وي، بلکه د هغې پوښتنکونه او د هغې ځانګړنې هغې ته تلنډول د هغې د الاتو ډېرډولوالي شیانورشوګانو د رقم له لارې کرکتریستیکي یا تیوپیکي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فلسفې زړيټکي سم اند (د سم اند اړوند فکري پوهنه)، اېتيک يا اخلاق( د سم کړنلار پوهنه) او ميتافزيک ( د شتون او رېښتينوالي لومړنيو دلايلو پوهنه) دي. نور ستېدسپلينونه پيژندنتيوري او پوهنتيوري دي، چې دوي د پوهيدنګټنويا پوهيدنلاس ته راوړنو، په ټوليزه توګه همداسې په ځانګړي توګه د بيلابيل يوګونپوهنو د پوهيدنډول امکانات دي.

پيلراوړنه يا پيلامه:ستونځې شته، کومې چې د ټيک پوهنو د مرستې سره هم په کار نه يا نه پوره اچول کيدی شي:

د دې پسې پوښتنه چې څه شی ،، بد،، او،، ښه ،، دی، ،،

............... ۲ ..................

حقوالی(؟)،، څه مانا لري، ايا خدا(ج) ( خدای مې دې نه ګوناه کاره وي،د فلسفې څيړنه ده)شته، ايا انسان يوه نه مړه کيدونکې ارواح لري اويا ،، د ژوند موخه،، څه شی دی.

همداسې کيدی شي د پوښتنويونو بل ټولګی د بيلګې په توګه پيداېښتي پوهنې وي:

-- بيولوژي په حقيقت کې د ژونديو نړی څيړي، خو دا نه شي ټاکلی، چې د دې ژوندي ،، شتون،، څه سر ته رسوی، ايا او کله دژونديو اورګانيزمونو(غړو) د مرګ اجازه شته يا د انسان ژوند کوم حقونه او مکلفيتونه خوندي لري.

-- د فزيک او د شميرپوهنې سره کيدی شي پيداېښتي قوانين يا لارې وويلی يا افاده کړای شي يا روښانه کړای شي، خو پوښتنه، چې ايا پيداېښت بيخي د قانوني لارې جوړ دی، دا کوم پيداېښتي پوهنه بيخې نه شي ځوابولی.

-- حقوقپوهنه څيړي او کره کوي، چې که يو څه د قوانينو سره په همغږی پيښيږي، څه شی چې د غوښتنو – يا هيلوسره سم قوانينومنځ پانګه کيدی شي، دا د هغې له بنديز يا چوکاټ اوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- ټولیز نه ځانله د هر یوګونپوهنې ، بلکه بنسټیزه پوښتنه راپورته کیږي، چې موږ له دې لاسته راوړي پوهې سره څنګه ځان برابرولی - یا سمولی شو.

-- له دې سره پوښتنې شته، چې د فکرکولو پولې لمسوي، لکه دا پوښتنه، چې ایا دا په همدې سترګورپ کې ځانیز- یا ځانله حس کړی ربښتیاوالی هم په ربښتونې شتون لري.

په ټولوداسې حالتونو کې د یوګونو پوهنو روښانه-ونو مودل له وینو پاتیږي یعنې څه نه شي ویلی، دا فلسفي پوښتنې دي.

یوناني فیلوسوف پلاتون Platon( 348/47 – 428/27 د عیسوي وخت د مخه) له دې امله په دې څیره ( که غواړۍتصویر) کې شک پیدا کړ، کومه چې انسان پخپله له ځانه او له نړۍ ورکړی وه.

په خپل نوموتي یا مشهورکتاب سمځورته یا د سمځې سره برابرHöhlengleichnis کې هغه د نور څنک د عادي انسان رابندې یا محدودې احساسونې توانوالی او پیژندتوانوالی داسې راګرځوي یا هنداره کوي.

.

.............. ۳ ..................

دوي د خپل برابر یا ورته سره څنګ په څنګ لړۍ په یوهمځه کې ناست، ټول په یوه ډول تړلي، داسې چې دوي سیده مخا مخ د سمځې دیولونه خپل مخ ته کتلی شي( لنډ خپل مخ ته دسمځ ډیولونه ګوري). یو وور رڼا ورکوي، چې هلته د سمځې لرې برخه د انسانان شا ته بلیږي. د انسانان اود وور منځ کې – دا هم د دوي شاته- یودیوال، چې د هغې شا ته بیلابیل شیان وړل او په خوزښت راوړل کیږي، چې دیوال جګوي او هغه سمځدیوال په ځیر کتنه انسانانو ته د خوزنده سیوري په ځیرځرګندیږي.

د دیوال شاته د دې وړنوغړونه او کشار یا کشپش دې پرلپسې د دیوال تړلو انسانانو سترګو ته مخامخ هم باید همداسې د سیورو پرمخوړلو یا د سیورو مخ ته وړلو په ځیر باورولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د د ې صحنې سره پلاتون موږ ته څرګنده ،، رېښتونی،، نړۍ له سمڅې دباندې د لمر په رنا کې په مخامخول یا تضاد کې راوړل یا کونترستونه kontrast کې راولي اود دې هنر کلیمې له لارې موږ ته پوهوړکوي یا راښايي، چې ولې فیلوسوفان رېښتیاوالی، دا په دې مانا چې حقیقت ته نږدېوالی انساني احساس یا رښتیانیولي په پوښتنه کې راولي.

## د یوه فیلوسوف ادعا

د یوه فیلوسوف ادعا دا ده، چې خپل ځان اونړۍ ازماېښت ته اچوي یا ازمايي. شیان هم کوم چې زیات کسان یې د هرو مرو یا پخپله ترې پوهیدنې او ورکړل شوي ګوري، په فلسفه کې له سره پوښتل کیږي، د شک لاندې راځي او ازمایل کیږي- د بیلګې په توګه پوښتنه، چې ایا،، رښتیاوالی،، یا ،،حقیقت،، په خته یا په رېښتونې داسې دی، لکه څنګه یې چې موږ رېښتیا نیسو. ،، موږ څنګه باوري کیدی شو، چې دا څه موږ ګورو، رېښتیا شتون لري؟،، ، یو فیلوسوف له ځان داسې پوښتي. داسې دې سوکراتس هغه خورا خوره شوې یا نوموتې یا مشهوره غونډاله هم ویلي وي، چې: ،، زه پوهیږم، چې زه نه پوهیږم،، - یو شعوري مخامخوالی(تضاد) دی، څکه چې دی څنګه پوهیدی شي، چې دی د خپلې وینا له مخې بیخي نه پوهیږي؟

داسې فلسفي پوښتنې تل ستونځمنې دي او تل ګرانې یا دزړه پورې نه دي- دوي کسان په شک کې راولي او خپل نړۍ لید په لړزه کې راولي. هغه رېښتیا پسې هڅاند انسان دې د سره یا پیله – زیات نارامه- لید له لارې په نړۍ نوموتې لیدني یا مشاهدې(؟) لاس ته راوړي اوله دې لارې یو ،، ریښتیا هڅانده،، ، ،، حقانیت،، یا ،،ډېر ښه،، ژوندوکړای شي یا مخ ته بوزي.

### **Der hermeneutische Zirkel: Das Ganze als Summe seiner Teile**

هرمینوېتیکې ګردۍ(دایره): ټول د هغه د برخو زیاتون یا جمعې په څیر.

.

.................. ۴ ........

په داسې ترڅ کې چې یوګونې پوهنې د ټاکلو الاتو د پوهیدلو سره موخه-ور بوخت دي، هرمینوېتیک پخپله د پوهیدنې پوهنې سره بوخت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی هرمینوېتیک د زاړه یوناني وی hermeneuein څخه راوتلی. دا کړنه یا فعل د ،، روښانول، وړاندې کولو،، - هرمینوېتیک له دې سره په لړې موخې یوه د وړاندې کولو لار ښايي.
دا هم یواوړده د خبرو څه دی، چې هرومرو به د لوستونکوله پاره په زړه پورې وي او د ن ج له لارې میندلکیدی شي.

## فلسفه څه شی دی؟

د فلسفې په هکله د اروپا د غوره فیلوسوفانو اندونه:

نه شي کیدی چې ،، فلسفې،، ته ټولیز باوري پیژند ورکړ شي، ځکه چې هریو ، چې فلسفې کوې یا -وايي، هغه هر یو د شیانو په هکله خپل اند ته وده ورکوي. له دې امله پورته کړلو پوښتنو ته نږدې دومره ممکن ځوابونه شته. لکه فیلوسوفان.

کارل فریدرېش فون وایځیکر Carl Friedrich von Weizsäcker یوځل داسې ویلي یا فرمولبندې کړې: فلسفه پوهنه ده، چې په هغې څوک خبرې نه شي کړی، بې له دې چې دا پخپله مخ ته بوزي یا سرته رسولو هڅه وکړي.

اریستوتلس: – ARISTOTELES: *Metaphysik* I 2, 982 b 12

له دینونو ، دیني ټولنو او نړی لید څخه په بل ډول فلسفه د پورته ،، فلسفي،، یادشوو په کار اچونې بل ډول پوښتنو کې ځانله په هوښیارتیا تکیه کوي، دا په دې مانا چې راشنل یا فکري دلایلو، چې نور د مخه نیونې ( لکه د بیلګې په توګه په یوه ټاکلي مخ ته پروت درس یا پوهنه باندې عقیده) نه غواړي.

پای یادونه:

دا چې ما د مخه څوفلسفي اړونده لیکنې راټولې کړې وي، نو له دې امله دا لیکنه، خو:

د نورو پرمختللو ژبو په ویپانګو او لیکلتوان موړهلته پوهیږو، چې ورسره مخامخ شو اوڅه ترې رانیسو. د دوي د ډېرډوله ویونوله پاره په زیات وخت کې په پښتو کې یوه مانا پیداکولی شو، خو موږدا د خپلې ژبې لوستونکوله پاره داسې چمتو کولی شو یا داسې باید چمتو کړو، چې پرې وپوهیدلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ليکنې راټولونه اوليکنه-په ځانګړې توګه د غونډالو چمتوکونه- راته پوره له ستونځوډکه وه، هيله ده، چې ګران لوستونکي به يې له لوستلوسره ستونځې ونه لري.

زه خو مسلکي نه يم، کيدی شي يومسلکي کس دا په اسانۍ سره راټول اووليکلی شي.

.

............ ۵ ................

ډاکتر ماخان ميرې شينواری

## تيزې Die **These**

يادنه: ما چې زموږ د ځوانو ليکوالانو ليکنې د هيوپوتيزې په هکله ولوستې او وليدې. دوی يې په فرضيه په پښتو يې نيونه ده، خو دا موږ ترې پوهيدونې فرضيه نه ده او له دې امله به داسې ويونه همداسې په خپله خټه ليکني پرېږدو او نه به يې پښتو کوو. دا يوه اوږده او خېړنيزه منځپانګه لري، چې موږ بيا دنورو ستونځو سره مخامخ کوي.

زه په دې اند يم، چې هغه زيات څه سره چې مسلکي وي او يا يې په پيداښتي توګه پښتو انډول نه شي پيداکېدی يعنې دا ويونه په خټه کې هم پيداښتي نه وي، نو هغه دې همهغسې پرېږدو او پښتو کوو دې يې نه.

تيزې Die **These** ( زړه يوناني کليمه ده *thésis* θέσις الماني (Behauptung ، aufgestellter Satz يو ښوونيزه ِغوښتنه ( غوښتنه يا ثبوت، چې ښوول کيږي) يا يوه لارښوده غونډاله ده. مخامخ غوښتنه يې کيدی شي Antitheseانتيتيزې وي.

د مخه راوړنه: دا غوښتنه په ليکنه کې شوې وه، چې دلته څه زياتيدی او کميدی شي. دا مې ځکه وليکه، چې دوی هم لا تراوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ډېرو داسې پوهنيزو شيانو کې تل د نوي څه سره مخامخ کيدی شی، ځکه دا ورته بسيا نه کوي.

پيژند: يوه تيزې يو اند يا فکر او يا يوه غونډاله ده، چې د هغې سمون يوې ښوونې ته اړتيا لري. د يوې تيزې ليکونکی رښتياغوښتونی دۍ. که تيزې د ښوونې جوګه نه وي، بايد دا وغورځول شي. په بل حالت کې کيدی شي په تيزې ودريږي يا تيزې کلکه ونيسي. په ټوليزه توګه يوه تيزې يوه وينا ده، چې له يوه ګډوله څخه هغه غوره له وينا څخه پراګماتيکي رامخ ته کوي همداسې باوري کيدو ته يې بايد راوړي. که يوه تيزې ناسمه وي، نو نه شي کيدی چې کوم ډول ښوونه يې هم په دليل ودانه کړی شي. د ښوونې تګلار هم د هغه اړونده ډول لارو په واک کې ده ( لاندې وګورۍ).

د يوې قضيې او تيزې منځ کې توپير د وينا پوهنې په براګماتيکي چاپيريال کې پروت دۍ.

......................... ۶ .............

يوه کارتيزې يوه ځغلنده ايښوولشوې يا منځ ته راغلې تيزې ده.

د تيزې، قضيې(تيورېم) اوتيوري منځ کې توپير به اوس د يوې بيلګې په بنسټ انځورشي:

- تيوري يا نظريه: ميکروايکونوميکي تيوري د او په کې يوګوني اقتصاد سره ځان بوختوي.

- قضيه يا تيورېم: د ميکروايکونوميکي د باورورشو تيوري په دننه کې فرمول شوې Coase د داسې نوموتې **Coase-Theorem** ( دا د ميکرو ايکونومي بنسټيزتيورېم (بنسټېزه قضيه) دۍ). دا روښانه کوي، چې – د تيوري د ټاکلو شرايطو لاندې – مارکيټونه د افراطي افکتونو سره چليږي (په ملي اقتصاد کې سړی د اکسټرېم افکت externen Effekt ( دباندېوالی) لاندې د ناانډوله اېکونوميکي پرېکړو اغيز په نه-برخه لرونکو په نخښه کوي، نو اغيز، چې هغې له پاره هيڅځوک ( ښه يې : بې له هيڅ) پيسی نه ورکوي يا يو برابروالی لاس ته راوړي).

---

تيزې: اوس يو بل پوه(عالم) هم غواړي يوې باوري قضيې ته وده ورکړي اود دې له پاره يوه تيزې منځ ته راوړي، چې دا لومړی بايد وښوول شي. که دا تيزې پخپله په ځان کې پوهنيزه د منلو – نه منلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

( که غواړي: جنجالي) وي همداسې په منلو-نه منلو ( یا رښتیا-
نارېښتیا) بنسټېنیونو ودانه وي، دا په لومړي ځل کې یواځې یا فقط
داسې په نامه کارهیوپوتیزې ( هیوپوتېزې وروسته وګورئ) جوړوي.

د تېزې د وی یا کلمې تاریخ: دا د تیزې کلمه یا وی د انتیکې فلسفې
زېږنده ده. په یوه دیالکتیکي خبرو اترو یا بحث کې دا کلیمه د پوښتوني
اند انځوروي ( دا د XYZ حالت دئ او یا د XYZ حالت نه دئ)، کوم چې
دی یو د بل سره خبرو یا مباحثې وختورشو کې وساتي یا ولري.  په
پوښتنه – ځواب –لوبه  کې دا د پوښتوني څخه  د پوښتنکونکي موخه
ده، په هغه کې چې دی( پوښتنکونکی) هغه (پوښتونی) په مخامخ
خبرو کې راګیر کړي یا راونیسي. له دې امله اریستوتلس په دې اند
دئ، چې په دیالیکتیکي یود بل سره یا  یود بل مخامخه خبرواتروکې
سم اندیزه  پایونه تمرین شي یا تمرین کړي. په دې موخه نو تیزې د
یوې غوښتنې راوړنه ده.

کله کله تیزې د  ډېرو له پاره یو اورلګیت دئ، لکه په ۱۵۱۷ ز کال کې د
مارتین لوتر ۹۵ تیزې د هغه وخت د کلیسا په هکله ( په دې به نورې
خبرې نه کوم، خودا به په یاد راوړم، چې دې تیزونو یواوړد جنګ منځ ته
راووړ).

ایمانول کانت په څلورو Antinomien der reinen Vernunft په  سوچه
رښتیا انتینومیو( که وخت وو،نودابه هم ولیکم. پوره په زړه پورې دئ)
کې تیزې د انتیتیزې سره مخامخ کړه یا مخامخ ولیکله. کانت د دې له
پاره دلیل راوړ، چې سړی تیزې همداسې انتیتیزې ښه مدللې کولی
شي. له دې امله نشي کیدی چې تیزې او همداسې انتیتیزې سمې
وي. له دې زیات سړی اړینډوله  د هوښیارتیا په مخامخوالي یا تضادونو



کې راګیر کیږي، که دا په ارواح باندې، دا نړۍ په ټوله کې   یا
خدای(ج) (پسې) فکروکړي او د بیلګې په توګه د خپلواک غوښتنو(
تیزې) یا د دیترمینیزموس( ټاکلتیا یا ټاکلوالي) Determinismus(
انتیتیزې) دلیل راوړلشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ديترميناري، کره کونه، پولې اېښوونه، رابندونه(محدودونه)) داسې اند دی، چې ټولې پېښې – په ځانګړې توګه راتلونکي هم- د دمخه ورکړ شوو شرايطوسره يواځني کره – يا ټاکلشوي دي. مخامخ تيزې Indeterminismus)) په عقيده ده، چې ټاکلې پيښې شته، چې دوی نه يواځني د مخه ورکړشووشراطو له خوا ټاکلي دي، بلکه ناټاکلي دي.

يوهان ګوتليب فيښتې Johann Gottlieb Fichte يې په مخامخ د ټولو پوهنيزپوهنو ( علمي پوهنو) بنسټ Grundlage der gesamten Wissenschaftslehre د سينتيزې له لار برابر د تيزې او انتيتيزې په مخامخوالو (تصادونو) کې لټول کيدی شي. فيښيتې د تيزې، انتيتيزې او سينتيزې لوبه د کليمو يا ويونو زه او نه- زه مخ ته کړه.

**Synthese** سينتيزې( يوناني: رايوځايکونه، يوځای ايښوونه، تړنه):

سينتيزې د دوه يا ډېرو توکو(جوړښتبرخې) و يوه نوي يوون يا يووالي ته يوځای-ايښوونه په نخښه کوي.

# انتيتيزې Antithese

دا د انتيتيزې وی يا کلمه په ټوليزه توګه يوې پيلغوښتنې ته يو مخامخغوښتنه په نخښه کوي. له دې سره دوه ويونه، کلمې، جمله- يا غونډاليبرخې يا غونډالې- يود بل سره مخامخ کيږي، چې په خونديونه يا منځپانګه يا موخه کې يوبل ردوي.

.

پيژند: يوه انتيتيزې څه شی دی؟

په يو له بل توپيرېدونکو بڼو او اووښتونو يا بدليدونو يو ژبنيز پيداېښت، په هغه لاندنی سطحه يا هواره، د دوه يوبل ردوونو ويناوو يو مخامخوالی دی. د نورمال ورځنيووويناو پرته يا څنګ کې له ټولو د مخه ورکړ شوي شعر کې را پيداکيږي، چې زيات وخت هلته ځای په ځای کيږي، د دې له پاره چې يوه خونديونه يا يو څه غوره راوباسي يا راوتلي وښايي.

تنظيمکونه: دا چې انتيتيزې د اوکسيوم او چيازم پوښتنې-ځواب موادو سره خپلوانه ده، نواړيين بولم، چې په يوه جدول يا لښتکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دوي سره مخامخ کړو،نو د دې دريو ريتوريکي موادو اود هغوي غوره پيژندنخښو ته اړتيا ده.

............... ٨ ................

پوښتنه- ځواب(؟)..... بيلګه .........رامنځ ته کيدنه..... جوړښت

اوکسومورون ....بربنډې پټې خبرې..... کم .........دوه مخامخويونه

......................................... زيات په لوريک، .. تړلي

......................................... لږ په شعر کې......... يوبلپسې راځي

چيازم. ... نن لا نه ....... زيات په لوريک .... دوه جملبرخي همغه له سره

......... مګرهوسباته.....اولږ کله،کله په شعرکې... يود بل مخامخ پرلپسې راځي،

.......................................................... خوندي وينا توانمنده کيږي.

انتيتيزې...اند غوښتونې ده......زيات...........دوه مخامخ منځپانګې

...........خو غوښتنه کمزورې...زيات په شعر،.. سره مخامخ کيري

.................................. په لوريک هم.............

په پورته کې به يو څه لږ روښانه کړو:

## د انتيتيزې بڼې:

دا يوه لار ده، (نسبت استثن) و ځانګړنوالي ا ته يا دا يوه لار ده و ځانګړوالي ته، چې دا درې پيژندنخښې هممهال وکارولشي.
دا چې وى انتيتيزې خورا ډېر خونديونې لري لکه دا خپلوان ويونه، کوم چې په لښتکي کې ښوول شوي، نو د انتيتيزې دننه- کاتيګوري ته اړتيا ده.

١ – ناسمه وينا د سمون سره

بيلګه:

تيزې: ورځ ښکلې ده، ځکه چې لمرروڼ برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتیتیزې: دا ورځ خو ښکلي نه ده، پای یې(بالاخره) (ورینګي) وریږي.

دا چې لومړې وینا کې رښتیا نه ویل دي، نو په دویمه جمله کې د یوه سمون په مرسته رد شوه.

د غبرګوالي سره ګډوله کونه

بیلګه: په کینه کیدل یا قهرېدل لنډ دی، پښیماني اوږده ده.

( فریدریش فون شیلر. زنګ)

................... ۹ .............

د غبرګونوالي سره شاعر غواړي خپله وینا لاندېکرښیزه(د لاندې یې کرښه راکاړي) کړي، چې دوه منځپانګیزې یوبلردوونکي شیان یود بل مخامخ ځای- په-ځای کړي.

۳ = ګډوله-کونه د چیازموس سره

بیلګه:

هنر اوږددی

او لنډ زموږ ژوند دی.

( یوهان ولفګنګ فون ګوېتې،فاوست کې)

د ژوند لنډوالي غمیزه شاعرلیدوړکوي د هغو شیانو مخامخ، کوم چې ژوندارزښته او ښکلی کوي. له دې سره دی د دواړوتوکو منځپانګیزه وینا جګوالی ته رسوي. د دواړو بیتونو څلورلاریز –یا صلیبي ډوله ودانولو له دې سره د ویونکي غمجن حالت لاندېکرښیز کوي.

یادونه: لږ تر لږه په الماني ادبیاتوکې چې یووی یا جمله یا لنډ څه چې غوره وي، له دې څخه لاندې کرښه راکاړي، چې ما دې ته لاندې-کرښیز یا لاندېکرښه کیدونکي او...ویلي. تاسو یې چې هرډول بولی.

ډاکتر ماخان میږی شینواری

# Hypothesis هیوپوتیزې

## د مخه راوړنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خپله لیکنه د الماني ادبیاتوخخه رانیولې او له دې امله به نومونه هم له المانی رانیول شوي اویا الماني وي.

زموږ ستونځې دا هم دي، چې مورد ډېرو مسلکي لاتینویونوسره بلد نه یو او داسې په سم اندیزډول یې هم نه پوهیږو، موږیواځې داسې نږدې انډول ورته ټاکلی شو او یا شننیزه روښانه-ونه یې ورکولی شو.                    ځنې
مسلکي د مانا ډک ویونه دي، چې په عربي ( په بخښنه په عربي مې ځکه ولیکله، چې موږدا سې ویونه تل په عربي  ژباړو) ژباړه یې ناشونې او ناموخه-وره ده. داسې نومونه باید که روښانه نه وي روښانه شي اوهمهغسې وکارول  یا راوړل

............ ۱۰ ...................

شي. دا په ټولو پرمختللوژبوکې همداسې دي اوژباړه یې د یوه وي سره نه کیږي، دا یواځې روښانه کیدی شي، چې یوه بیلګه یې هیوپوتیزې ده.

د پوهنیزو، داسې ویونو د ښه پوهیدنې له پاره، چې روښانه – ونه یې په یوه پښتو انډول وی نه کیږي او باید روښانه شي، زما وړاندیزدا دی، چې دا دې ځانله ،خانله وڅیړل شي او چې د یوې څیړنې له پاره دبل وی پوهیدنه اړیینه وي، هغه وی دې هم همدلته ورسره مل او لنډ وڅیړل یا روښانه شي

دا ټولې خبرې اوږدې څیړل دفیلوسوفانو اوژبپوهانو کار دي، زماله پاره یې لنډه اړیینه روښانه ونه بسیا کوي.

## هیوپوتیزې

یوه هیوپوتیزې (زړه یوناني او پسې لاتیني څخه ده، الماني **Hypothese** انګرېزي *hypóthesis* ) د یوې سم انیدیزې وینا په بڼه فرمولبندیزه نیونه ده، چې سمون یې سړی شونی یا کیدونی نیوی یا بللی شي، چې دا لا تراوسه ښوول شوی همداسې verifiziert (۱) نه دی . هیوپوتیزس باید د هغه له لاس ته راوړنو په بنسټ د ازمایلو وي، چې هغه د لاس ته راوړنې پسې یا له امله ښووالکیدی - ....یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

رد کیدی شي. د هیوپوتیز د فرمولبندي کولو له پاره ورځنی یا مروجه ده، چې شرایط ورکړلشي، چې د هغو لاندې دا باور لرودی شي. دا د یواځني سماندیز اړیکو سره کیدی شي، په لاندې توګه:

،، تل که....، نو ....،،

( ۱ ) وریفیکیشن Verifikation د یوه ګومانی یا غوښتوني شیحالت ښوونه ده، چې رښتیا وي ( نوره روښانه-ونه هم لري،خوزموږله پاره دابسیا کوي).

هیوپوتیزې Hypothese د پوهنیزو کارونو په چوپړکې ده لکه د بچلر، ماستری اوډاکتری تیزسونه.

یوه هیوپوتیزې یوه اړوندوالی، یوه نیونه همداسې یو ګومان دی.

دا پورته یاده شوې ،، نیونه،، په دې مانا نه ده، چې د هیوپوتیزې انډول دې په عربي فرضیه وي، چې پښتو انډولی یې نیونه ده.

د هیپوتیزې بیلګې:

....... ۱۱ ......................

هرڅومره چې دفتر تیاره وي، تر هغې همکاران تولیدوونکي یا جوړونیکي دي.

دا یوه هیوپوتیزې ده :

هیوپوتیزې ته د دوه شي ځانیونو یا - حالتونو منځ کې د لار سره سم ګوماني اړوندوالي وایي( افاده کوي). دا د پوهنیزو پرابلم انځورولو کارونو یو څه وختیز ځواب دی.

هیوپوتیزس د پوهنیزو کارونو کره برخه نه ده. هر پایکار د کشف پوښتنې ته اړتیا لري، په داسې حال کې هیوپوتیزې ته هغه وخت اړتیا پیښیږي، چې پخپله یو تجربوي کشف (خیړنه؟) کوي.

هیوپوتیزس د یوه خپلواک اووښتونې(مجهولې یا واریابلې) – سرچینه –اویوه بلواک اووښتونې – ګوماني اغیز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هیپوتیز بیلګې:

چې دفتر هرڅومره کړکۍ لري، همهغومره همکاران تولیدوونکي یا جوړونکي دي.

خپلواک اووښتونې

د کړکیو ګڼون( تعداد)

بلواک اووښتونې

د همکارانوتولیدوالی یا جوړښتوالی.

## د هیوپوتیز ډولونه:

دوه ډوله هیوپوتیزس شتون لري: لوریزې اونالوریزې هیوپوتیزس.

نالوریزه هیوپوتیزې

د نالوریزه هیوپوتیزې سره ته په ریښتونې تصدیقوې، چې یواړوندوالی شته، مګرته لور نه کره کوي.

د نالوریز هیوپوتیزې بیلګه:

د کړکیوګڼون د همکارانو په تولیدونې یواغیز لري.



لوریزه هیوپوتیزې

د دې په خټ یا مخامخ په لوریزه هیوپوتیزس کې په دې اړوندوالي یوه لورشته. د بیلګې په توګه: مثبت یا منفي.

د لوریز هیوپوتیزې بیلګه

د کړکیو ګڼون د همکارانو په تولیده-ونه مثبت اغیز لري.

لوریزې هیوپوتیزې د پوهنیز کارله پاره زیات وخت موخه- ورې دي، ځکه چې دوي ویناتوانمندې دي اویوځګه تجربوي خوندیونې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا ستا پایکار (پاکارګوره د کار پای نه دی) یا د کارپای بې له ناسمون دی؟

د منځ-ارزښت له مخې یو پایکار په هرو زرو ویونو کې ۱۵۰ ناسمونه لري.

په تجربوي پوهنه Empirische کې هیوپوتیزې د نیونې ځای لري، هغه چې په ورځنی توګه د دېدوکتیو- نومولوجیکي مودل پسې باید وازمایل شي. له دې سره لیدل شوي داتای باید په هیوپوتیز وکارول او وازمایل شي او لیدلې پیښې یو د بل سره سروخوري یا یوغږې شي. که سرهیو غږې شي، نو له دې سره هیوپوتیزې باوري کیږي یا باوري ده.

---

**یادونه یا روښانه – ونه:** دېدوکتیو-نومولوجیکي مودل das Deduktiv-nomologische Model( لنډ:DN-Model) د یوه کوزال (Kausalität د بنسټ یا سرچینې اواغیز منځ کې اړیکې) د ګډو اړیکویونو د پیداښښتي ژبې له لارې د پوهنیز روښانه - ونې فورمال جوړښت دی.

**یادونه: دا تجربوي پوهنه د نیونې ځای نیسي،خونیونه نه ده.**

---

په یوه سم اندیزه (منطقي) خبرواترو کې یوه هیوپوتیزې د یوه دلیل نیونه( فرضیه (زړه مې نه غواړي، چې په نوکانو یې ورسره ولیکم)) ده، چې د هغې رښتیاوالی لومړی په نوکانو کې رابند شي.

په شمیرپوهنه کې:

په شمیرپوهنه کې د هیوپوتیز کلمه په سرچینه کې ناښولې بنسټونه په ګوته کوي یا ټولیزپرنځیپونه، له کوموچې شمیرپوهنیزې غونډالې یا جملې راوځي یا رابیلیږي. دا چې دا پرینځیپونه د اکسیوم په څیر کارولکیږي، د دې له پاره د رښتیا شرط نه کارولکیږي. دا لار یا قانون دی. له دې سره ټرلي پایلاسته-راوړنې دېدوکتیو دي.



دا د ابسترکشنAbstraktion وی د یوګیزوالو لرې کول یا پرېښوول یا ترې تیرېدل او یوه ټولیز یا ساده ته یې بیول زیات وخت د ایندکتیو اند

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروسه په ګوته کوي. د دې په څنګ کې ددې کلیمې ځانګړې کارونې یا استعمال په ټاکلو یوګیزو پوهنو اویوګیزوتیوریو کې شته.

دېدکشنDeduktion ، دېدکشني متود یا دېدکتیوي پایونه هم، په فلسفه او په سم اند کې د ورکړلشوې نیونې ( پرېمیسPrämissen ) یوې پایون-لاسته راوړنه ده په سم اندیز اړیینه نتیجه. دېدکشن همغه د ارستوتلس په زمانه کې پایونه پیژندل شوې وه د ټولیزڅخه په یویز (ځانګړي) ، دا په دې مانا چې د خویونو میراث، چې د یوه ګروپ ټولغړییې لري، په یوه اصلي برخډېرۍ( سبسټ) او یوګونو توکو ته هم وړل کیږي. اریستوتلس انکلوسیون د ټولیزووییناو لاس ته راوړنه له یوګونحالتونو خیږنو، او ابدکشنAbduktion یا اپاګوګېApagoge مخامخ، کره کونه، دا چې ټاکلي یوګونې یا یویز حالتونه د یوې ورکړ شوې یا تراوسه کشفکوونکې ټولیزې لارې (قانون) لاندې راځي.

پایونه په خورا ښه روښانه-ونه یو ابدوکتیوabduktiv پاي دی، چې د هغه سره یوه ټاکلې هیوپوتیزس د نورو هیوپوتیزسو په مخامخ ځانګړې یا اعلا وګڼل شي.

ابدکشنAbduktion : یوه مخ ته پل یا کړنه یا مخ ته تګ دی، چې په هغه کې تشریحي یا شننیزه هیوپوتیزې جوړیږي.

## د کانت د هیوپوتیزې سره د حکم ښه:

د المان فیلوسوف امانول کانت په خپل د قضاوت کریتیک کې څلور تلنارې د تیورتیکي ښوونې له پاره توپیروي.

۱ – سماندیز په سختۍ پایلاسته-راوړنه ( دبیلګې په توګه د دېدکشن له لارې).

۲ – د انالوجي یا ورته- والي کارونه

۳ – رښتیاوالي اند

۴ – هیوپوتیزې د ممکنه روښانه-ونې بنسټ یا دلیل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده له انده په رېښتونې هيپوتيزې لومړی فقط يو له څلورو امکاناتو دی، چې يوه ښوونه پيدا کړي، خو دی د يوې هيپوپوتيزې سره لږخه غوښتنه وړاندې کوي، ،، له دې بايد لږترلږه د امکاناتو پوره ډاډ وي،،.

په قانون يا قضا کې هيوپوتيزې په يوه شرطي جمله کې فرمول بندي کيږي.



په دې کې دا جوړښتونه خوندي دي :

که $X$ ، نو $Y$

يا هم هر څومره $X$ ، همغومره $Y$ .

هيوپتيزې پوښتنې نه دي، بلکه ويناوې دي. وهڅيره، چې دا داسې ټيک فرمولبندي کړي، چې شونتيا يا کيدنوالی يې وي.

بيلګه د که – نو- فرمولبندي

که په دفتر کې زياتې کړکۍ شتون ولري، نو همکاران ډير توليد کوي.

بيلګه هرڅومره – همغومره – فرمولبندي

چې هرڅومره ډېرې کړکۍ چې دفترکې شتونولري، همغموره هکاران ډېر توليد کوي.

## د هيوپوتيزس ازماېښت:

که تا يوه هيوپوتيزې چمتو کړې وي، بايد دا اوس وازمايې او د هغې په رښتيا ارزښت  يې هم وازمايې.

- که انتظارمو رښتيا شي، کيدی شي اړونده هيوپوتيزې رښتيا وپيژندلشي.

- د دې مخامخ که انتظار مو رښتيا نه شي، نو هيوپوتيزې، چې ويينه يې( افاده شوې)  شوې ناسمه وپيژندل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Verifikation مخامخ Falsifikation: ناسموالي پيژندونی يا ناسموالي پيژندل د يوې وينا ناسموالي ښوونه، دا په دې مانا چې يوه ويناد ښوونې له لارې ناسمه راوځي.

## روزنکشفونه  يا روزنمیندنه.

---  ،، که هرڅومره ډېر زده کوونکي په ټولګي کې وي، همهغومره د زده کوونکو د زده کولو توان ټيټيږي،،.  ،، که درسخونديونه د ازموييني له پاره نه وي، نوزده کوونکي دا درس زر له ياده باسي،،.

.............. ۱۵ ................

لومړی نيونه د ټولګي لويوالي  اوزده کوونکو اود زده کوونکو توان اړوندوالي په يوه لور د هرڅومره – همغومره – وينا په ګوته کوي. دويمه د که – نو – وينا يو شرط ورکوي.

## د هيوپوتيزې ستاتيستيکي ازماېښت

ته امکانات لري، چې هيوپوتيزې ستاتيستيکي و ازمايې. د دې له پاره ته يوه صفر (H0) هيوپوتيزې او يوه مخامخ تيوپوتيزې (H1) ليکې.

بيلګه H0 :

د کړکيو ګڼون د همکارانو په توليد بې‌اغيزنه لري،

بيلګه (H1)

د کړکيو ګڼون د همکارانوپهتوليد يو اغيز لري.

صفر هيوپوتيزې له دې مخ ته ځی، چې کوم اړوندوالی نه شته او مخامخ هيوپوتيزې بايد و ازمايل شي. ستا مخته يوه لړی ستاتيستيکي هيوپوتيزازمايينې مخ ته پرتې دي، چې هيوپوتيزې فريفيڅير کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په افغنستان کې د روغې راتګ

راځئ لنډ په ګډه د هیوپوتېزو په مټه وڅیړو، چې په افغانستان کې روغه څنګه راتلی شي؟

دا څه چې موږ دلته څېړو، دا به یو لنډېزوي، چې د پوهنیز کارخوندیونه دې هرومرو نه وي، خوهغه کار به په داسې هیوپوتیزو ودان وي.

د دې له پاره هیوپوتیزې راوړو او رښتیا یا سموالی یا کیدنوالی یې بیا ښایو.

لومړی: که طالبان او دولت سره خبرو ته کینې، نو روغه راځي.

دویم: که طالبان او امریکا سره خبرو ته کینې، نوروغه راځي.

............ ۱۶ ..............

لومړي حالت ته: که د طالبانو اودولت همغږی سره امریکا  همغږې نه وي، نو روغه نه راځي.

دویم ته: که د امریکا اوطالبانو سره حکومت نه وی همغږی، نوروغه نه راځي.

اوس دې نوې هیوپوتیزې ته:

دریم: که طالبان،حکومت اوامریکا خبرو ته کیني، نوروغه راځي.

دریم ته: که دا همغږي منځ ته راشي- بېله کوم زور- نودا بیا پخپله روغه ده.

څلورم: که حکومت پرته له نورو افغانې ډلو له نمایندګانوسره طابان وګورې، نو روغه منځ ته راځي.

دا هم ځکه نارښتیا ده،چې:

یو : که حکومت ورسره همغږی نه وي، روغه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه: دوي د افغانستان خلکو ته مسئوليت نه لري، نو کيدی شي څه چې کوي يواځې د ځان په ګټه به يې وي.

دوي له دې امله د روغې پروسه کې فعاله ونډه نه شي لرودی.

## پوهنيزه تيزې Wissenschaftliche These

په پوهنتيوري کې د تيزې بڼه هيوپوتيزې ده.

يوه پوهنيزه تيزې يوې ځانګړې لا رې ته نه ده اچول شوې.

د دې له پاره چې په پيداښتپوهنه کې د تيزې منل په پوهنيزه چاپيريال کې جګه کړو، بايد تيزې

- يو روښانه او ټيک پيژندل شوی حکم يا پرېکړه وي،
- ناسمښوونيزه وي،
- د خپلې انځوروني په ترڅ کې کټمټ پاتې شي،
- هيڅ بله منلشوې تيزې رد نه کړي،



- هيڅ بله منلشوې تيزې رابنده يا محدود نه کړي،

سم انديز مخامخ ونه لري يا خوندي ونه لري.،

- د پسې ازماېښتوړ واقعيت باندې ودانه وي،

يوه بيلګه يې د نيوتن د خوزښت له تيوري څخه د کپلر لار يا قانون دی د ستورو ګرځنلار( قضيه).

په فرانسه کې تيزې د ډاکترۍکار(Dissertation (*thèse de doctorat* ته وايي ورته نږدې لکه تيزس *thesis*انګلستان،المان اونور ژبوکې.

## هغه کليمې، چې داسې لړ روښانه-ونه يې اړيينه

**د خبرو له پاره د خبرو مواد: Stilmittel**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه کړی شي ډېر ریتوریکي خبرمواد (د خبرو مواد) ولري، چې له هغې ګټه اخستلی شو د دې له پاره ویونه چې په ژبنیز جوړښتونو کې ورکړل کیږي. دا لږ ستونځمنه ده، چې شعرشننه او کورکارکې دا متمئن موخه-ور وټاکو.

ژارګون Jargon **یوه ځانګړې ژبه همداسې وینا- یا ویینډول په نخښه کوي.**

ریتوریک **Rhetorik** د خبرو هنر

## Oxymoron اوکسومورون:

اوکسومورون د یوه خبرموادو(خبرو مادو) په څیر ، په ټولډولونو لیکنو کې کارونه میندلی شي. له دې امله ځانله په لوریک رابند نه دی، بلکه ایپیکي اودراماتیکي کارونو کې هم میندل کیږي.

**Paradoxon**: زیات وخت پارادوکسون د اوکسومورون سره بدلیږي(،، زه توانمند یم نسبت هغه خورا توانمندته،، هغه بیعقله دی و هغه ډېربیعقله ته،، ، ،، یواځنی تل پاتیکیدونکی بدلیدنه ده،،)، د دې مخامخ دا اوکسومورون ویونه په برکې لري، چې د خوندیونې یې یوبل ردوي(،، بې وینې تویولو جنګ،، ، سولهییز انقلاب،،.

اوکسیومورون له خبرو او ورځنی

دا لږ ډېر دي

............. ۱۸

دې ډک یا زه غریب کړم

دا بیړه له تلوار سره

تور سپین

کونتردکشن ادیکتو د اوکسومورون په څیر

خوښي درد

تور شیدې

ګرده څلوری(مربع)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګونګې چغې    یا

بې غږه چغې

**چیازم: Der*Chiasmus***

چیازم  خبرومواد (د خبرو ماده یا مواد) دي، چې موږ ورسره په لوریک کې مخامخ کیږو. دلته برابر ارزښته ویونه، برخغونډالې یا غونډالې په ټرلیپرلپسې ډول چلیپاډوله یا څلورلاریز سره مخامخ تنظیمیږي. دا په دې مانا، چې چیازم د دې توکو  یوه  څیره – هنداورنیز نظم دی.

ماته ژبه کرانه ده   ګرانه ده ژبه ماته

دا یې هغه چلیپا - یا اټیران ډول لیکنه یا که غواړۍ څلورلاریزه لیکنډول

ماته ژبه کرانه ده

ګرانه ده ژبه ماته

پای یادونې:

- په دې لیکنوکې زیات ویونه راځي، چې په پښتو مانا یې ستونځمنه ده او روښانونه غواړي. زه به وهڅیږم یا هڅیدلی یم، داسې په یوه یا څو لیکوکې یې داسې لنډه روښانونه او پیژند ولیکم، خوزیاته شننه به ورسره نه وي، ځکه، چې دا هریو وی په خپل ځان کې یوه پوره لیکنه ده.

- ځنومسلکي ویونومانا کولوکې به دا ستونځې وي، چې ټیک مانا یې نه شو ورکولی یا نه ورکول کیږي، خوروښانه به یې کړواویا به ورته نږدې ګډوله-وی وکاروو.

.................. ۱۹ ...................

- زه خو د داسې لیکنوسره نوی یم، خو باور وکړی، چې هره غونډاله له الماني په پښتو انډول لیکم، خوند ترې اخلم.

- هره ریښه یو ځانکړی خوند لري او څوک چې له یو څه سره داسې لږ په اړیکو کې راځي، نو نوره مینه یې هم ورسره پیدا کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زه پوهیږم، چې زموږ ډیر هیوادوال له ماخخه په دې ښه پوهیږي اوډېر څه به یې لیکلي وي، خوهر څوک یوه د لیکلوځانګړې لار لري، چې دا په پوهنه کې پخپله یو مړښت دی.

- زه چې موخه-ورې غونډالېراټولوم یا د همغهې لیکنې راژباړم، نو کوښښ کوم، چې منځپانګه یې راځخه خرابه نه شي او دا کار پوره ستونځمن دی. که غونډالې کله،کله دپ،هیدنوستونځې لري بخښنه به راته کوی.

- زما بله ستونځه داده، چې دا هرڅه په پښتو ولیکم، نو دا هم یوساده کار نه دی، ځکه ژبه مو د ډېرو شیانو اوپه تیره بیا په پوهنه کې نابلده ده.

راټولوونکی: ډاکتر ماخان میری شینواری

،،Die **Antinomien der reinen Vernunft**

# د سوچه هوښیارتیا یا فکرتوان انتینومي،،

د ایمانوېل کانت لیکنه.

یوه د مخه راوړنه:

۱ - ما په یوه د مخه لیکنه کې دتیزې او انتیتیزې باندې خبرې ګړې وي او هلته د انتینومي وی یا کلمې سره مخامخ شوم، لړورته کونجکاوشوم، ومې غوښتل،چې دا هم ګرانولوستونکوته له الماني پښتوکړم. نه پوهیږم، چې موږبه څومره ددې ،،د کانت،، د لیکنو سره بلد یو، خو زه ورسره سوچ بوچ نویوم، نو ماته یې له دې امله په پښتوکولوپوره ستونځې جوړې کړې، ډېروهڅیدم، چې خپل د لیکنې اوژباړې هنرڅخه کار واخلم، خوبیا هم نه پوهیږم، چې څومره به مې پوهوړ لیکلي وي. تاسو درانه فلسفیپوهان دې مرسته وکړي، چې دا زما نیګرتیا پوره کړي اوکه هر ډول مو خوښه وه.

۲ - زما له پاره دا فلسفي مسلکي کلیمې یا ویونه په پښتو هم پوره ستونځمن دي یا وو، هیله مې ده، چې داسې نیمه نیمخوره به مې یا لړترلړه د پرې پوهیدنې پښتوکړي وي، دا په دې مانا، چې پښتو اېدول به یې ورنړدې وي، چېموخه ترېوپوهیدلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ – زه مسلکي نه یم، خودا چې دا د تیزې او... تر انتینومي پورې خبرې اترې مې خوښې شوې، ومې غوښتل ګرانو هیوادوالو ته یې وړاندې کړم، هیله ده، چې که داسې نورې لیکنې مولوستلې وي، دا مو هم داسې لړخه دپام وړ وګرځي.

## ،، د سوچه هوښیارتیا یا فکرتوان انتینومي،،

د سوچه هوښیارتیا انتینومي( یوناني انتی،، مخامخ،، نومي ،، لار یا قانون،،) د هوښیارتیا یا فکرتوان پوښتنې ته سم اندیز یا منطقي ردوونکې څوابونه دي. ایمانوېل کانت دا د سوچه هوښیارتیا کرتیک په ترانسڅندنتالې دیالیکتیک کې و څیړلې یا خبرو ته را واچاوه.

der *Kritik der reinen Vernunft Transzendentalen Dialektik*

(Vgl. Immanuel Kant: AA III, 281–382)

د سوچه هوښیاتیا کریتیک په همغه د مخه د لومړي چاپ په وینا کې کانت لیکي:

،، د خپلې پیژندنې په ډله کې ( هم اندیزه ډله) انساني هوښیارتیا یا فکرتوان یو ځانګړی برخلیک لري:

دا چې دا( یعنې هوښیارتیا یا فکري توان) د پوښتنوله لارې زوریږي، هغه چې دی ( دا فکري توان یا هوښیارتیا) یې نه شي ردولی: ځکه چې دی له پیداښته پخپله هوښیارتیا یا فکري توان له هغه نه شي تیرېدلی، چې ګوندې دا هغه ته ځواب نه شي ورکولی، ځکه چې د ا د ټول انساني هوښیارتیا یا فکریتوان له منځ پانګې اوړي.

د کانت له مخې اړیینډوله هوښیارتیا یا فکرکولتوان دې ته مائل کیږي، چې زموږ د خیال او قضاوت یو رایوځای شوی - یا راټول شوی یووالی ولټوي، چې له دې سره د پیژندنې د باوریکیدنې ورشو پراخه کړي. له دې سره دی د اصولو (پریڅیپ) یا فکر(ایدې) یا نظر قضاوت ته راهڅوي، چې دا د ممکنه تجربو ورشو پرېږدي:،، ترانسڅندنت قضاوت،،. دا چې یو سوچه فکري توان یا هوښیارتیا له تجربې د مخه شتون لروده، چې د دې قضاوت توان له مخه لري، نویواځې د فکري توان یا هوښیارتیا، ردکیدونکي یا انتینومي او ناسمون، چې له دې سره منځ ته راتلی شي، رابرسیره کړي(راځرګند یا رابربنډ کړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې پېژندتوان – يا هوښيارتيا کريتيک ،، د سوچه هوښيارتيا يا فکرکولتوان،، يوه برخه جوړوي ، چې د يوې ،، ټوله نړۍ،، فکر د يو شي يا مضمون په څير لري.

## يوګونې انتينومي

د کانت له مخې يوګونې ،، ردونخبرې يا ردونبحث،، يا انتينومي د تيزې او انتيتيزې په بڼه په لومړی سر کې يود بل مخامخ ايښوول کيږي يا راوړلکيږي. له دې پسې بيا د تيزې او انتي تيزې له پاره يوه ښوونه سرته رسولکيږي. په ښوونه کې هروار يوه يادونه ټرلکيږي



يا راوړلکيږي، چې د ردونې منځ ته راتلنه روښانه کوي او د هغه اوبيونې يا حل وړاندې کوي. دا د کاتيګوري سرليک پسې ځي يا تعقيبوي.

تيزې اوانتيتيزې يې دي:

Antinomien der reinen Vernunft nach Kant (B454ff)

د سوچه هوښيارتيا يا فکري توان انتينومي

)د کانت له مخې يا اند يې (اوبيونه يا حل:

دا يو د بل سره مخامخ دربدلې تيزې او انتيتيزې د کانت له انده له تيزې او انتيتيزې څخه د کومې په ګټه پربګړه نه شي کولی .د دواړوله پاره يو دليل پيداکيدی شي، چې د کانت د منلي قانون يا لار له مخې د ټوليزسم اند يوه اړيينکيدونکې څرګندېدونکې ښوونه ورکوي .دا چې يو د بل ردکيدونکي اړيينکيدا رامنځ ته کيږي، کانت له انتينومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړیږي .د هوښیارتیا یا فکرتوان ناسمه کارونه په ورځني میتافزیک کې د کانت له انده د یو د بل ردکوونکو قضاوت(پرېکړې) کونې)میتافزیک کریتیک دې وکتل شي (په ګوته کوي

دا پورته راپورته شوې پوښتنې د کانت له اند یواځې د ترانسځندنتلفلسفې له لارې اوبی کیدی شي:

.

............. ٢٢ ......................

که هوښیارتیا د پیژندنې دواړه سرچینې، پوهیدنتوان Verstandاو احساسیدنوالی Sinnlichkeitپه پام کې ونیسي اودهغو هره برخه سره توپیرکړي، نوسړی په پام کې راوړی شي، چې دا وی،، نړی،، په تیزې، انتیتیزې او ښوونو کې، زر تجربوي د را ټولې شوې کلیمې یا وی د ټولبرېښیدونکو خرګندېدنو ،زر،، اینتلکتول،، د ټولو الاتو د یوه سیستم په خیر وکارول شي .بې له دې یو د بل له بدلیدونو سره د دواړو انتینومیو تیزې او انتیتیزې په برابرډول ناسمې انځوریږي، د دریمې اوڅلورمې انتینومي ممکن دواړه د نړی-کلیمې د همغه یوه څخه د دواړو کاروندول ربښتیا راووځې .د دریم داسې په نامه خپلواکوالي انتینومي کانت ته اجازه ورکوي، چې په خپله کارنده یا عملي فلسه کې ازادي د پوستولات )Postulat،، تل ربښتیا وینا،،.وینا چې تل ربښتیا نیولشوي وي یعنې تل ربښتیاوي (په خیر رامنځ ته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې پسې راړنه:

ځنې ویونه، چې ګومان مې دی اړیین وي، دلته داسې لړ د پیژند له مخې یا سره روښانه کوم.

:Postulatوینا چې تل رښتیا نیولشوي وي یعنې تل رښتیاوي.

کاوزالیتي Kausalität

..... ۲۳ ............

کاوزالیتي Kausalitätپه ټولیزه توګه په ژبکارونه او همداسې فلسفه کې د سرچینې او اغیز اړوندوالی په نخښه کوي، کوزالیتي ته سنونوم ،،سرچینه-والی،،.

ساده بیلګه:

دا چې ورښت ورېدلی دی، سرکونه لانده دي.

کتنه یا ژورکتنه : Einsichtکتنه یا ژورکتنه دې په ورځنې ژوند کې دا وي، چې د یوه شیورشو خویونه، اړوندوال او اړیکې ذهني ټیک وپیژندل شي، فکري راونیول شي او شي ډوله سم وپوهیدلی –واخستل –یا ومنل شي.

پیژندنه:Erkenntnis

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پيژندنې Erkenntnisوي له پاره يووالیز پيژند نه شته .په لومړي راتنګ -يا نزدېوالي کې کيدی شي پيژندنه )اېرکنتنيس (د پروسې او لاس ته راوړنې د يوه د کتنې يا تجربې له لارې ګټلې پيژندنه ونښايو يا په نخښه کړو.

پيژندنتيوري )١ Erkenntnistheorie (د فلسفي بنسټورشو ده، چې د زده کړې يا پوهيدني له پاره پوښتنې د نيونو له لارې، د پوهنې او د باوري کيدنو منځ ته راتلونکې نورې بڼې په بر کې نيسي.

...... ٢۴ .............

له دې سره دا هم څېړل کيږي، چې څه اخلاق او څه )ځان ته (رواکول څه سرته رسوي او د ګومان څه ډول د باوري کيدو په کوم ډول ليدوړ منځ ته راتلی شي.

)١ (پيژندنتيوري او نه پيژندتيوري .دا دوه سره بيل څه دي.

ترانسځندنتلtranszendental

ترانسځندنتل) transzendentalلاتين *transcendere*له پولې ،،اووښتنه،، (د پيژندنتيوري اړوندوالي د تجربو په )نسبت (کارول کيږي ـ دا په خيال کې راوړنې يا پيژندنې له مخې، کوم چې د ايمپيري تجربو له لارې لاس ته نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړلکيدی، د هغه باوريوالی مګر بايد ونيولشي، چې د دې سره رښتياخونديونه ولري او له دې سره پيژندل او پوهيدل شوني يا کيدوني وي.

د انسان فکريتوان پانګه، چې کتنه يا مطالعه يې لاس ته راوړي، اړوندوالی وپيژني، چې يو شی ونه ګوري يا پام ته رانه شي، يو قضاوت په وکړی شي او پسې يوې کړنې پسې مخ کړي يا ځان لوريز کړي.

.

.................. ۲۵. ...............

د هوښيارتيا**Vernunft**يا فکري توان وی په خپل نوي کارونه کې يو د فکر له لارې ټاکلې انسانی فکري توان geistigesانساني پيژندنې ته بداېي په نخښه کوي يا بولي.

## د سوچه هوښيارتيا يا فکري توان انتينومي

## دوېمه برخه/ ايمانوېل کانت

د کانت سوچه هوښيارتيا انتينومي کې دا لاندې د کانت تيزې او انتيتيزې په يوه لښتکي کې وې اوهغه په لومړی برخه کې له تاند درنې پاڼې ځخه په چاپ کې نه دې راغلي.دا دی چېپه ځانله توګه تاسوته وړاندې کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تيزې اوانتيتيزې يې دي:

Antinomien der reinen Vernunft nach Kant (B454ff)

# د سوچه هوښيارتيا يا فكري توان انتينومي

| ګڼه | Theseتيزې | Antitheseانتيتيزئ |
|---|---|---|
| ۱ | ،، نړۍ په وخت کې يو پيل لري، اود فضا له مخې په پولوکې رابنده ده.،، | ،،نړۍ پيل نه لري، او په فضا کې پولې، په ځانګړې توګه هم د وخت په ليد او هم د فضا له مخې،ناپای ده.،، |
| ۲ | په نړۍ کې يو هر يوځای شوی شی له ساده برخو جوړدی، اوهرچيرته دا شته نه د ساده په څير، يا دا، څه چې دې يوځای شوي دی.،، | ،،په نړۍ کې هيڅ يوځای شوی شی له ساده برخو جوړ دی( په نړۍ کې يوځای شوی شی له ساده برخو نه دی جوړشوی)، او هر چيرته په انځورونه کې نه-ساده شته( ساده نه شته).،، |
| ۳ | ،،د پيداېښتي لار(قانون) له مخې کوزاليتي يوګونې يا يواځنی نه ده، له کومې چې د نړۍ څرکنديدنه رابيليدی شي. يوه بله کوزاليتي د خپلواکی له لارې د همغې روښانه- ونې د نيونې له پاره اړيينه ده.،، | ،،خپلواکي نه شته، بلکه په نړۍ کې هرڅه ځانله او ځانله د پيداېښتي لارو يا قوانينو سره پيښيږي.،، |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۴ | ،،په نړۍ کې یو څه شته، کوم، چې د هغې برخه یا د هغې سرچینه ده،اوساده یو اړیین شتون دۍ.،، | ،،هرچیرته ساده نه اړیین شته شتون لري یا شته، نه په نړۍ کې اونه د نړۍ دباندې، پرته د هغه له سرچینې.،، |

## نیونه، غوښتنه، ښوونه:

د دې نومونو سره موږ تراوسه بلد یو: فرضیه، ثبوت،ځواب یا ښوونه.

دا ویونه، چې زه یې دلته اوس د ګرانو لوستونکوسره شریکوم، زیات په شمیر پوهنه کې کارولکیږي، خو په ورځني ژوند او نورو پوهنوکې هم ورسره مخامخ کیږو.

زه زما لیکنې له الماني څخه راژباړم. زه باوري یم، چې له مانور تکړه کسان شته، چې دا کاربښه کولی شي، که دوي یې پخپله نه کوي، نوهیله ده، چې لږترلږه خومرسته وکړي.

وړاندنیونه(preconditio لنډ: نیونه، فرضیه)

وړاندنیونه یو حالت او یا یو خوي دۍ، چې باید پوره وي، له دې د مخه چې یو بل حالت، یوه کړنه یا یو بل خوي او یا یوه بله پروسه د ښوني شي یا وښول شي.

د بیلګې په توګه په یوه څه کې د ننوتنې منلو یا داخیلېدو اجازې د مستحق کېدو له پاره ازموینه زیات وخت یوه وړاندنیونه یا که غواړۍ فرضیه ده

یوه وړاندنیونه کېدی شي یواځي د یوه حالت یا یوه خوی یوه وړاندنیونه وي.

................ ۲۷ ........

په سم اند کې وړاندنیونه په لاتین کې د پریمیسPremise په نامه هم بلل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شمېرپوهنه کې وړاندنیونه د یوې ښوونلارې یوه غوره برخه جوړولی شي

